
**آصف بهاند**

# د پاریس د سفر څوورکې کربنې


1
24. 07. 2013

د ۲۰۱۳ ام کال د جولای پر ۲۴مه نېټه مې د خپلې وړې کورنۍ له څو تنو غړو سره پاریس ته د سفر له پاره ملا وتړله. لاړو، ورسیدو، ځای پرځای شوو او د پلان له مخې مو ټول هغه ځایونه ولیدل چې غوښتل مو.

بېرته خپلې مېنې ته راستانه شوو او خپل ورځنۍ ژوند مو پیل کړ. ما باید د خپل دې سفر رپوټ په خپل وخت کې لیکلای وی؛ خو د د ډېرو بوختتیاو په وجه ونه‌توانېدم څه ولیکم او په ننسبا کولو کې مې داسې لیکل هېر شول چې د پاریس د سفر لیکلې یاداښتونه هم په کاغذونو او کتابونو کې له سترګو داسې پناه شول چې د هېرېدو ترېریده ورسېدل. څو ورځې مخکې مې د خپل کور وړوکی کتابتون د دې له‌پاره له الماریو رابې‌ځایه کړ چې له ګردونو یې پاککړم. د پاکولو په ترڅ کې مې هغه وړه کتابچه ترسترګو شوه چې د یاد سفر یادداښتونه کې په کې لیکلي و.

دا دی هغه یاداښتونه له تاسو درنو لوستونکو سره شریکوم.

آصف بهاند

**دا دی پاریس ته ځمه:**

وړوکی وم، ښايي د اوو اتو کلو به، چې زنوړ د اوسېدو د کلي دهمرادخان په کوڅو کې مې د يوه قهرېدلي دهمرادخاني له خولې واورېدل:

«چې شاهزادې پاريس خو نيس...»

دا جمله مې د ککرۍ په ارشيف کې خوندي شوه. وخت د برېښنا تر چټکۍ هم چټک روان و، د نه ـ لس او دولسو کلونو شوم. د خوښۍ په يوه محفل کې يوې ښځې بلې ته ويل:

«خورې مېړه يې پيسې لري، «شام لندن» يې اغوستی و، خدای دې زموږ مل شي...»

چې په دې کې يوې بلې ښځې غږ ورباندې وکړ:

«خورې اغه څه کوې، د پلانکی ناوې يوه ټوټه اغوستې وه چې «شام پاريس» يې بلله، زه پوه نه شوم چې څه مانا به ورکوي. شام خو ماښام ته وايي، چې پاريس به يې لا څهبلا وي.»

يو بل کليوال و چې کله به پر خپله ښځه باندې وقهرېد، د نورو ښکنځلو په ترڅ کې يې ورته داسې هم ويل:

«وه د گورکي لورې!»

دا کيسې او په دې کيسو پورې اړوند گڼې پوښتنې زما د ذهن د گودام په کومه تياره تلخونه کې سره غونډېدې.

د کورنۍ ـ ښوونځي ـ ښونکوو او کتابونو له برکته مې د همدې پوښتنو او د ژوند د بېلابېلو برخو د نا حل پوښتنو د پيټی له بار سره؛ د علاوالدين تجربوي ښوونځی پایته ورساوه او د اووم ټولگي د پيل لهپاره، په دارالامان کې د محمدطرزي ليسې په دروازه ورننوتم.

يوه ورځ د جغرافيې ښوونکي د اروپايي هېوادونو او ښارونو د تشريح او توصيف په لړ کې خبره پاريس ته ورسوله او او داسې يې وويل:

«گورئ! پاريس د فرانسې هېواد پلازمېنه ده، دا دی او هغه دی...»

او په پای کې يې وويل:

«پاريس د اروپايي ښارونو ناوې ده.»

د دې جملې په ويلو سره خپله له ټولگي څخه ووت، خو زه او يو څو تنه نور زدهکونکي يې په غضب ککړ کړو.

يو خو موږه د کوچنيوالي او زلمیتوب د برید پر کرښه باندې ولاړ وو، وينه مو ورځ تربلې تودېده او چرگانو ازانونه کول؛ د همدغو دلايلو پربنا د ناوې او د هغې د ليدلو هوس راباندې غالب و، هره ورځ مو چورتونه وهل چې دا پاريس به څه ډول ناوې وي.

اوس چې له پنځوسو ورجگ يم بيا هم د بريد پر يوې بلې کرښې باندې ولاړ يم، يعني د ځوانی او زړبودۍ په سرحد کې گرځم، تر ما د جگ سن خلک هوس کوي چې کاشکې د تا په منگ وای، خو تر موږ ځوانان زموږ فکري چوکاټ ته گوري، زړو سندرو ته غوږ دی او کله ـ کله تر شونډو لاندې خاندي، باادبه يې خپله خندا هم پټوي او بې ادبه يې په ښکاره وايي چې: «کاکا ته د «دقيانوس» د زمانې کيسې پرېږده، اوس بله زمانه ده او هرڅه بدل شوي دي.

په هرصورت، زه له دواړو ډلو سره گوزران کولای شم، خو دا يو عيني حقيقت دی چې له عجيبو پېچومو، کړاوونو، بوږبوښکيو او دنگو غرونو راتېر يم، ځان او کورنی مې تر دغه زمان او تر دې

مکانه رارسولي دي، هڅه کوم چي ځان ځوان وښیم، خو پرته له انکاره چي زه له ځوانی نه، زړبودۍ ته د تېرېدو پر خطرناکو پېچومو ولاړ یم، ښه خبره دا ده چي ورته سترۍ نه یم او لوی امتیاز مي دا دی چي د هنر ـ موسیقي ـ شعر او کتاب ډیوه مي په لاس کي ده چي پر تلونکي لار تېرنه‌وزم او د ترکستان خوا ته لاړ نه‌شم.

خبره لږه اوږده شوه، پاریس مي یاداوه او ویلي مي وو چي: دا دی پاریس ته ځمه، پاریس ښه ځای دی، بیا نه‌راځمه، زه خو به هلته پاتي کېږم، خو که د «سرکوزي» زامن مي پرېږدي، د راسیزم په متروکو به مي وهي او لکه شین‌بانجان مي یا خپل اور اخیستي هېواد ته لېږي او یا مي له راغلي ځای نه بېرته همالته ورستنوي؛ خو دا امید شته چي د یوې اوبرنګي کتابچي (د سفر اسناد) په اعتبار به د پاریس د لیدلو اجازه راکړي.

### د پاریس میترو:

د ۲۰۱۳ کال د جولای په ۲۵مه پاریس ته ورسېدو. د استاد اسد اسمایي زوی میلاد زموږ هرکلي ته راغلی و. میترو ته چي ورښکته شوو، ما میلاد وپوښته چي دا میترو څه نومیږي؟ ده راته کړل چي:

«دا د یو شخص نوم دی.»

ما بیا وپوښته چي دې سړي کوم داسي کار کړی دی چي دا میترو د هغه په نامه نومول شوې ده؟

میلاد د خپل پلار استاد اسد اسمایي په انداز راته وویل:

«د فرانسې په انقلاب کي یې ځنې اړولې دي، ځکه یې دا میترو په نامه ده.»

ما یې چي د ترسره کړي کار یا خدمت پوښتنه وکړه، ده راته وویل:

«څوک به یې وژلي وي، انقلابونه خو له وهلو ـ ټکولو او وژلو سره مل وي.»

ما په روسیه کي د تمکېدو په موده کي هره ورځ له میترو استفاده کوله، کله چي په پاریس کي میترو ته ور ښکته شوم، څو ځایه مي موږکان ولیدل او ځینو ځایونو کي اوبه راڅڅېدې، خو د ماسکو په میترو کي یو وړوکي کاغذ یا ډکي هم ما نه دی لیدلی.

### ایفل برج:

لومړی ځای مو چي پاریس کي ولید، د ایفل برج و، دا برج چي د عالم له عجایبو څخه دی، د خپل جوړونکي (ګوستاو ایفل) په نامه نومول شوی دی. دا برج د پاریس د «سن» سیند په اړخ کي د «شاه دو مارس» به میدان کي درول شوی دی چي ۳۳۰ متره لوړوالی لري. جوړولو یې دوه کاله او دوې میاشتي (۱۸۸۷ ــ ۱۸۸۹) وخت ونیو.

د ایفل برج پر جوړېدو باندې څه باندې یوسل و شپېږدېرش کاله تېر شوي دي، تر اوسه لا هماغسې نیغ ولاړ دی او د فرانسې د پېژندني او فرهنګ استازولي کوي.

### شانزه‌لیزه کوڅه او د پاریس د بریالیتوب تاخچه:

په پاریس کي شانزه‌لیزه د شته‌منو د اوسېدو سیمه ده چي فرانسویان یې « *la plus belle avenue du monde* » بولي چي د نړۍ تر ټولو ښکلی واټ معنی رسوي. پر دې واټ باندې چي څوک مخامخ ولاړ شي، د پاریس د بریالیتوب وداني ته وررسېږي، دا وداني د هغو فرانسوي سرتېرو په ویاړ جوړه شوې ده چي د فرانسې له پاره یې ځانونه قربان کړي دي. دا یادګار د پاریس په شارل دوګول ډګر کي ودان شوی دی.

فرانسويانو د خپلي بريا دا يادگار په لرغوني روم کي د تيتوس د جوړ شوي يادگار نه په الهام سره جوړ کړی دی او زموږ د ازادۍ مخکښ شاه امان‌الله بيا د پاريس له يادگار نه په الهام سره، د انگليسي يرغلگرو په مقابل کي د افغانانو د بريا په ياد په ۱۹۱۹ م کي د کابل په پغمان کي، هغه ته ورته يو يادگار جوړ کړ. روميانو او فرانسويانو د خپلو نيکونو د بريا دا ځلي وساتل او تر نن پوري يي درناوی کوي؛ خو زموږ د بريا پر يادگار کله داسي حالت هم راوړل شو چي نه يوازي درناوی يي ونهشو، بلکي په يادگار کي کارول شوي توکي مات کړای شول او په بازار کي ليلام شول چي بيا وروسته بېرته ورغول شو. ما (آصف بهاند) په پغمان کي د بريا د دې ځلي د ورانولو او په بازار کي د ځلي د مرمر تيږو خرڅول په خپلو سترگو ليدلي او کلونه پخوا مي د خپلو سترگو ليدلی حال ليکلی او خپور کړی دی. د هغي ترخي خاطري يوه برخه داسي ده:

«ما ته يي دقيقه، ساعت او نيټه اوس نه ده په ياد، خو دومره مي ياديږي چي د ډاکتر نجيب د حکومت وخت و؛ په خپلو سترگو مي وليدل چي سهارمهال و، دوستمي ايله جاريانو د پغمان د طاق ظفر مرمر تيږې راشکولې وې او په دهبوري کي يي د حاجي عبدالله په سنگ فروشۍ کي خرڅولې. حاجي عبدالله سنگ تراش و پوښتل:

«دا موله کومه کړېدي؟»

يو تن چي شخ لنگوټی يي پر سر و، تر پونډيو جگي پايڅي او پس‌قاته بوټان يي په پښو وو، په وياړ او هسکه غاړه و ويل:

«او بيادر! اي سنگای طاق ظپر پغمانس، ميپامي ياني؟»

http://www.afghan-german.net/upload/Tahlilha_PDF/bahand_a_larwraky_larawyan_ketab1.pdf
د کتاب ۳۳ ام مخ

د پاريس د ليدلو په ورځو کي مي بې‌شمېره مجسمي وليدلي. هلته کي دومره مجسمي دي چي که د مجسمو ضد وطنوال ځوځلي زيات هم شي او ټولو ته د دې مجسمو د ماتولو له پاره چکوشونه په لاس ورکړل شي؛ دوی به دا مجسمي او تاريخي يادگارونه په ځوکلونو کي مات نه شي کړای. زما په وطن کي د تاريخي يادگارونو او مجسمو پرضد جهاد اعلانيږي، خو د پاريس په هرواټ او هره کوڅه کي په لسگونو مجسمي او تاريخي يادگارونه ولاړ دي، هره مجسمه او يادگار د دې وطن او بشريت د تاريخ کيسي په ځان کي لري. هرې مجسمي ته چي گوري يوه ښه يا بده ــ خوږه يا ترخه کيسه او خاطره درياداوي؛ خو زما په وطن کي د سلسال او شاه‌مامي مجسمي الوزول کېږي، چېرته موږ او چېرته فرانسويان.

## د پاريس نوټرِدام کليسا:

هغه ورځ چي د ايفل برج پاسنۍ برخي ته وختو، له هغه ځای نه ټول پاريس ليدل کېده چي ډېره خوندوره ننداره وه. له هغه ځای مي د يوې جگي غونډۍ پرسر باندې پر يوې ودانۍ سترگي ولگېدي، خپل زوی لونگ بهاند ــ چي پخوا له خپلوښوونکو او ټولگيوالو سره پاريس ته راغلی وــ مي وپوښته چي:

«لونگ لالا هغي ودانۍ ته ورتلای شو که نه؟»

هغه راته وويل:

«پلاره د هغي ودانۍ ليدل د بلي ورځي پلان کي شته، خامخا ورځوو.»

په ټاکلي ورځ ورغلو، دا ودانۍ «د پاریس نوټردام کلیسا» وه. د دې کلیسا جوړولو ډېره اوږده موده نیولې ده، دا کلیسا د معمارۍ «د ګوتیک سبک» په قالب کې جوړه شوې ده. د دې کلیسا د جوړولو کار په ۱۱۶۳ م کې پیل او په ۱۳۴۵ م کې پایته ورسید، چې نږدې دوه پېړۍ وخت یې ونیو.

دا کلیسا چې د فرانسې د مليفرهنګ غوره بېلګه ګڼل کېږي په ۲۰۱۹ م کال کې یې ډېرې برخې وسوځېده، خو په ډېر لوړ لګښت سره بېرته ورغول شوه؛ خو موږ افغانان د ناپوهۍ د ډګر د قهرمانانو په توګه خپل مقدس او تاریخي ځایونه د پردیو په لمسه په بمونو او راکټونو ورانوو.

### د افغانانو رستورانت:

«د پاریس نوټردام کلیسا» تر لیدلو وروسته، د همدې تېپ ــ چې کلیسا پرې ودانه وه ــ په یوه اړخ کې د افغانانو یو وړوکی رستورانت په مخه راغی.مخکښته روان وو چې د رباب غږ مو واورید، وروګرځېدوو.

پر دروازې یې لیکلي وو: «افغان رستورانت» خاوند یې په دري ژبه زموږ هرکلی وکړ او د خبرو په ترڅ کې وویل چې دیرشکاله مخکې یې دا رستورانت پرانستی دی. رستورانت په یوه واړه دوکان ډوله ځای کې جوړ شوی و. تقریباً د دیرشو تنو لهپاره یې ځای درلود. د دوو دیوالونو په خوا کې یې دوې اوږدې څوکۍ ایښې وې او د هغو د پاسه یو فرش او بیا د توشکې په شان څه اچولې وې، واړه ــ واړه بالښتونه یې دېواله ته تکیه کړي وو. موږ هم د وطن له شوقه د ډوډۍ خوړلو او دمې له پاره کېناستو.

د رستورانت په دېوالونو کې د بودا عکس، په ټوټو پورې راځړول شوي څوندي، د افغانستان د بېلابېلو برخو عکسونه چې پخوا بهرنیو توریستانو د پوستکارتونو په ډول چاپ او خپاره کړي وو، په کلهباتو ګنډل شوې خولۍ، پنې، د کوچیانو د اوښانو د کاروانونو عکسونه، وړې قالیني، یوه‌زړه چپنه چې خامکـدوزي هم پرې شوې وه، یومسي پتنوس، لرېپاس په یوه تاخچه کې یوشیشهٔ چلم، د وزلوبې یو عکسونه، یوارمونیم، یورباب، یوه دلربا، یوسه‌تار په ځانګړو ځایونو کې ایښودل شوي وو. نرمه افغاني او هندي کلاسیکه موسیقي خپرېده چې ستړیا یې لرې کوله.

د رستورانت خاوند راته وویل چې نوم مې محمدیوسف محسور دی د کابل پوهنتون د ادبیاتو پوهنځي له فرانسوي څانګې فارغ شوی او له ۱۹۸۶ م کال راپه‌دېخوا دا رستورانت چلوم، خو رستورانت په ۱۹۷۷ م کال پرانستل شوی دی. څه چې خپلو میلمنو ته وړاندې کوو، ټول د افغانستان خواړه دي.

### لورو موزیم:

د ۲۰۱۳ ام کال د جولای پر ۲۷مه نېټه د لورو موزیم لیدلو ته لاړو. لورو موزیم د نړۍ په دریو مهمو موزیمونو (په انګلستان کې برتش موزیم، په روسیه کې د ارمیتاژ موزیم او په فرانسه کې لورو موزیم) کې یو مهم موزیم دی چې د لیدلو لهپاره یې هرهورځ ګڼشمېر توریستان ورځي. په لورو کې د نورو هنري او تاریخي اثارو د لیدلو ترڅنګ زما اصلي موخه د لیوناردو داونچي نوموتی اثر مونالیزه تابلو وه.

په موزیم کې مې چې کله د روم، ایتالیا او فرانسې څانګې لیدلې، نو د خپل دانشمند استاد حبیب‌الله جاج پښتونزوی لکچرونه راپه یاد کېدل چې د یادو هېوادونو د تاریخ، هنر او ادبیاتو په باب به یې موږ ته معلومات وړاندې کول. هغه وخت یې دومره په ارزښت نه پوهېدو، اوس چې د هغو هنرونو اثار او عظمت په سترګو وینم د استاد جاج د خبرو ریښتینولي مې په ذهن کې بیا بیا تداعي کېږي.

د موزیم له لیدلو چې خلاص شوو، یوپارک مو هم ولید او بیا مخامخ د پاریس شانزه لیزه کوڅې ته وربرابر شوو

**په ګونګه‌ژبه له استاد اسد اسمایي سره خبرې:**

په ۲۹مه نېټه د استاد اسد اسمایي هدیرې ته ورغلو.



د ۲۰۰۵ ام کال اوړی، هیدرسلیف، ډنمارک

د استاد اسد په باب مې څو مقالې لیکلې دي، خو د ده د پنځم تلین په مناسبت مې چې کومه مقاله خپره کړې ده، په هغې مې د ده هدیرې ته د خپل ورتګ په باب داسې لیکلي دي:

«تر ډېرې مودې وروسته د ۲۰۱۳ کال په اوړي کې وتوانیدم چې پاریس ته سفر وکړم. زما د سفر په پلان کې د نړۍ له اوو عجوبونه دوې (د ژوکون موسکا او د ایفل برج)، موزیمونو، پوهنتونونو، د شپاړسم لویي ماڼۍ او بڼ، د لورو موزیم او... لیدل شامل وو، خو تر ټولو لومړی د «فلسفي یار» مړستون ته تګ مې خپل لومړیتوب ګاڼه. ورغلم د سړي بې حرکته بسترې (قبر) په څنګ کې کیناسم،



بیا مې لکه ماشوم ورته وژړل، د ده د مرګ په خاطر مې چې کومې جملې د مرګ د شیبې له پاره لیکلې وې، بیا د ده د مړستون په څنګ کې زما د ککرۍ په ګومبزه کې انګازې وکړې او داسې یې وژړولم لکه مړي ته یې چې ناست یم .هغه څو جملې دا دي:

«او بیا آسمان وریځ شو، وغړمبید، داسې وغړمبید چې غرونه او رغونه یې ښورول. نه یې واوره و وروله، نه ږلۍ، نه کوم تند باران وورید او نه نرم باران. دا وار ته د تالندې او بریښنا په لړ کې د وریځو له منځ نه سپین اوښ راښکاره شو،خلکو ویل خدایه خیر کړې، «بیا به وارکا په کوم غولي وارد چا دی»، اسد غږ وکړ : دا زما دی، د ازما وار دی.

او په پای کې دا وار پر ده راغی، پر آسمایي راغی، پر لیوني راغی.

سپین اوښ راغی، د ده د استوګنځي مخې ته ودرید، په ګونډو شو. اسد په اسانۍ، په نرمۍ، په خوشالۍ، په خپله خوښه وربانديې سپور شو. اوښ بیرته ودرید، په سوچ کې شو، څه یې ونه ویل، سر یې وښوراوه، وخوځید او د تورو، سپینو وریځو په منځ کې زموږ له سترګو نهام شو...

او زموږ د مرکو لیونی،

زموږ د فلسفو لیونی،

زموږ دغرونوآسمایي لیونی،

زموږ د یاراني لیونی

او زموږ اسد یې د تل له پاره له موږ څخه جلا کړ، او په دې ډول یو ستر انسان د مځکې له مخ نه کم شو.»

**پاریس ته راغلم لیونیه**
**پته دې نه وه، هکحیران ودرېدمه**

(بهاند آصف، د تللو یادونه ـ لومړۍټوک، خپرندوی: په خپله لیکوال، ډنمارک، د ۲۰۲۴ام کال جنوري، ۱۸۵ ام مخ)

د جولای په دېرشمه مو د خپل سفر دا فصل وتاړه او بېرته مو کورته مخه کړه.

www.dawatmedia24.com